برگردان از: احمد شاه وردک-کابل

۱۳ سپتمبر ۲۰۱۱

## نوام چامسکی:

## امریکا دسعودی عربستان په مالی مرسته دبنسټ پال اسلام په خپرلو پسی ده

دسیاسی چارو یوه امریکایی څیرونکی د سپتامبر دیوولسمی دبریدونودکلیزی په مناسبت په یوه مقاله کی لیکی چی دامریکا دمرستو څخه برخمن عوامل دسعودی عربستان په مالی مرسته دهستوی وسلو دخپرولو اوپه پاکستان کی دبنسټپال اسلام د بنسټیز کولو په لټه کی دی.

دفارس دگزارش پر بنسټ د((نشن آف چینج)) تحلیلی پاڼی دامریکا د ژبیوه، فیلسوف اودسیاسی چارو دفعال نوام چامسکی په قلم په یوه مقاله کی چی دسپتامبر دیوولسمی اوله هغه وروسته دامریکا دجګړو په هکله لیکلی ده، څیرلی ده. په دی مقاله کی دچامسکی دلایل پردی ټکی زور اچوی چی امریکا کولای شول پرته له جګړی، دډاراچونی(تروریزم-ژ) په وړاندی ډیری بریاوی ترلاسه کړی.

### دسپتامبر دیوولسمی بریدونه اودهغه اغیزی په نړیوالو پیښو

دسپتامبر دیوولسمی کلیزی وخت په داسی حال کی رارسیدلی چی ټول په اتفاق سره ویلای شو، چی دی پیښی نړی ته په ټولیزه توګه بدلون ورکړی دی. ددی بریدونو په پایله کی دهرډول شک او تردید پرته ویلای شو چی افغانستان دلویدو(افول-ژ) په درشل کی دی، عراق چور اولوټ شو اوپاکستان ورځ په ورځ دهغی غمیزی خواته ګامونه پورته کوی چی د فاجعی انځور مو مخته ایږدی.

### دسپتامبر د ۱۱ نه وروسته په پاکستان کی دامریکا څخه دکرکی ډیریدل

د۲۰۱۱ کال دمی په لومړی نیټه داټکلونو(فرضیات-ژ) له مخی ددی جنایت متفکر مغز-یعنی اسامه بن لادن په پاکستان کی ووژل شو. دی پیښی په پاکستان کی نه بدلیدونکی پایلی درلودی. داچی پاکستان ولی بن لادن امریکی ته ونه سپاره دامریکا دخواشینی اوخپګان په هکله ډیری خبری او بحثونه وشول، ولی دپاکستانیانو دکرکی اوبدل اخیستنی په هکله کوم چی دبن لادن د سیاسی دترور په وخت ددوی دهیواد پولی تر تیری لاندی راغلی، په ډیره لږه

کچه پری خبری وشوی اونړی ته خپری نه شوی. امریکا پروړاندی کرکه له دی پیښی پخوا هم په پاکستان کی ډیره وه ولی دغه پیښه ددی لامل وګرځیده چی داکرکه داور په لمبو بدله شی.

## په افغانستان کی دامریکا جګړه دثیکاو(ثبات-ژ) سره په تضاد کی ده

دپاکستان دحوزی یوه تکړه شنونکی، اناتول لیون دنشنل انټریست دفبروری دمیاشتی په ګڼه کی دافغانستان دجګړی په هکله داسی لیکلی :(( دی جګړی ددی ترڅنګ چی په سیمه کی یی ټیکاو له منځه وړی، پاکستان یی هم دبنسټ پالنی خواته ورټیل کړی چی کیدای شی دامریکا اونړی لپاره داسی لویی جیو پولیټیکی ستونزی وزیږوی چی دافغانستان ټولی پیښی ترخپل سیوری لاندی راولی.

## له طالبانو څخه دپاکستانی ټولنی تعبیر

لیون په خپله لیکنه کی زیاتوی چی دپاکستان دټولنی ټول قشرونه دطالبانو سره یو ډول خواخوږی لری، ددی علت دانه دی چی په دوی ټولو طالبان ګران دی،بلکه دوی(( طالبان دبهرنی نیواک پروړاندی ترټولو مشروعه ډله بولی)) کټ مټ لکه څنګه چی مجاهدین په۱۹۸۰ لسیزه کی دشوریانو دیرغل په مخ کی دریدلی و.

## دامریکا څخه دپاکستان دپوځی چارواکو کرکه

دپاکستان پوځی مشران دامریکا دهغه زوراوفشار په هکله کی چی دوی دطالبانو پروړاندی دواشنګټن په جګړه کی ځانونه قربانی کړی، په کرکه اونفرت سره یادونه کوی. داکرکه هغه وخت نور زور اخلی کله چی امریکا ددوی دخاوری په دننه کی دپیلوټ پرته الوتکو پواسطه په تروریستی بریدونو لاس پوری کوی، هغه بریدونه چی داوباما دواکداری په وخت کی نور هم ډیر شول. دپاکستان څخه دامریکا هغه غوښتنی چی جګړه دی قبیالی سیمو ته هم وغزول شی کومی چی حتی دانګریزانو دواکمنی په ترڅ کی هم پخپل حال پاتی وی، ددی کرکی دزیاتوالی زورور لامل ګرځیدلی دی.

## دامریکا پوځی غوښتونه اودپاکستان دپوځی یووالی ګدوډیدل

په پاکستان کی پوځی برخه داسی یو نه ښوریدونکی بنسټ دی چی ددی هیواد ډیری نوری برخی ترخپلی ولکی لاندی ساتی. لیون وړاندی لیکی: (( دامریکا کړنی کیداشی چی دپوځ دځینو کړیو دلمسونی لامل وګرځی اودوی سرغړونی ته وهڅوی چی په پایله کی به دپاکستان هیواد دټوټه کیدو خواته کش کړی اوهغه غمیزی به رامنځ ته کړی چی سترګی ورته په لارو دی)).

## دپاکستان هستوی وسلی او لویی غمیزی:

دپاکستان لوی هستوی وسله تونونه (زرادخانه-ژ) چی په ګړندی توګه دخپریدو په حال کی دی اوهمدارنګه په دی هیوادکی جهادی غوځښتونه، دداسی غمیزو درامنځ ته کیدو شونیتاوی لا پسی ډیروی.

## دریګن ددولت میراث: په پاکستان کی دهستوی وسلو پراختیا

دواړه پیښی دریګن ددولت پاتی شونی(میراث-ژ) بلل کیږی، دواره پیښی(دهستوی وسلو پراختیا اواسلامی بنسټ پالی) دریګن اداری ته روښانه وی، امریکا په دی پوهیده چی ضیاءالحق چی یو له شریرو دیکتاتورانو څخه و اودواشنګتن دملاتړ څخه هم برخمن و، په دی پسی وترڅو دسعودی عربستان په مرسته هستوی وسلی پراخه او په پاکستان کی اسلامی بنسټ پالی بنسټیزه(نهادینه-ژ) کړی.

## غمیزه په کمین کی: په امریکا او انګلستان کی داتومی وسلو او ککړو بمونو دچاود شونتیا

دغه په کمین کی پټه شوی غمیزه داسی ده چی کیدای شی دادواړه پاتی شونی یودبل سره لاسونه ورکړی او جهادیانو ته ډیرڅه په لاس ورکړی چی هغه وکاروی. نوځکه داشونیتا شته چی مونږ داتومی وسلو دچاودنو اویا په یقینی توګه په لندن اونیویارک د(( دککړو بمونو)) دچاودنو شاهدان واوسو.

## دامریکا اوانګریز دکړنو پایلی: خلکو ته ددوی دهیواد ناامنه کول

لوین خپلی خبری داسی لنډوی: (( په اصل کی دامریکا او انګلیس سرتیری ځکه خپل ژوند ونه په افغانستان کی له لاسه ورکوی، چی غواړی نړی دامریکایانو اوانګریزانو لپاره په یوه ګواښمن ځای واړوی)) . پرته له شکه امریکا په دی ښه پوهیږی چی ددوی دپوځونو عملیات دافپاک(افغانستان-پاکستان) په پولو کی په سیمه کی دبی ثباتی اواسلامی بنسټپالی دپراختیا شونتیاوی منځ ته راوړی.

## دامریکایی چارواکو پوهه په پاکستان کی ددوی دکړنوڅخه

دویکی لیکس داسنادو په منځ کی ترټولو ارزښتناک هغه تلګیرافونه دی چی په اسلام آباد کی دامریکا دسفیر(انه پیټرسون ) لخوا استول شوی په کوم کی چی دافپاک په پولو کی دعملیاتو ملاتړ شوی، ولی دوی دی ته پاملرنه اړوی چی داکار کیدای شی دپاکستان دبی ثباتی، ددی هیواد دپوځی اوغیرپوځی مشرانو(دواړو) دګوښه کیدو(منزوی-ژ) اوپه دی هیواد کی دحکومتی بحران دالاژوریدو پایلی له ځانه سره ولری.

## په پاکستان کی دسوری موندونکو توکوګواښ

پترسون وړاندی لیکی: ((داشونتیا شته چی یوسړی کوم چی په اتومی ودانیو کی کارکوی په تدریجی توګه دومره اتومی توکی له ودانیو بهرته په قاچاقی ډول یوسی چی بمب تری جوړ شی)). که چیری دلیږد په ترڅ کی ددی توکو زیان مننی(آسیب پذیری-ژ) ته وګورو نو داګواښونه نور هم ډیریږی.

## په پاکستان کی دامریکا جګړه اودبن لادن بریاوی

ځینی څیرونکی په دی آند دی چی بن لادن دامریکا پر وړاندی په جګړه کی لویی بریاوی ترلاسه کړی. اریک مارګولیس د(امریکن کانسرواتیو) په مجله کی داسی کاږی: بن لادن څوځو ځله داویلی دی چی داسلامی هیوادونو څخه دامریکا دشړلو او ددی هیوادونو دمشرانو دراپرځولو یوازینی لاره داده چی امریکا په یو لړ کوچنیو ولی ګران بیو جګړو کی ښکیل کړای شی ترڅودیوالی کیدو کندی ته پریوزی.

## دواشنګټن عملیات اودبن لادن دهیلو پوره کیدل

دا خبره چې امریکا دبن لادن دهیلو پوره کیدو ته لیواله وه دسپتامبر دیوولسمی پیښی څخه وروسته په ټولیزه توګه بربنډه شوه.

مایکل شویرد سی آی ای یو له وتلو څیرونکو څخه دی چې د۱۹۹۶ کال راپه دیخوا دبن لادن پل څاری په خپل کتاب( امپریالیستی غرور) کی چې په ۲۰۰۴کال کی چاپ شو،کاږی: (( بن لادن دهغو جګړو ددلایلو په هکله چې زمونږ پروړاندی یی پیل کړی دی ، امریکا ته رښتیا ویلی دی. دده موخه داوه چې داسلامی نړی پروړاندی دامریکا اولویدیځ سیاستونه له بیخه بدل کړی)) دی په دی کارکی تردیره بریالی هم شو.

## امریکا دبن لادن یوازینی ملګری

دی وړاندی داسی لیکی:  دامریکا اودهغه دپوځ سیاستونه ، داسلامی نړی درادیکال کولو دنده بشپړوی، هغه دنده چې بن لادن د ۱۹۹۰ لسیزی په لومړیو کی دهغی دبشپړولو په تکل کی و اوپه دی لاره کی یی ډیری بریاوی هم ترلاسه کړی وی. په پایله کی زه داسی فکر کوم چې کولای شوداپایله ترلاسه کړو چې امریکا همدارنګه دبن لادن یوازینی ملګری ده اوډیرو لاسوندونو په کتلو سره  دا ملګرتیا  د هغی د مرګ نه وروسته هم ځای پرځای ساتل شوی ده.

ددی پرله پسی ویرونکو شواهدو په راټولولو سره ددی سوال سره مخ کیږو چې: آیا دسپتامبر دیوولسمی په ځواب کی کومه بله لاره (ګزینه-ژ) هم زمونږ پر وړاندی موجوده وه؟

## دامریکا بله لاره: دالقاعدی دطبعی ړنګیدوپوری  زغم  درلودل

که چیری دسپتامبر دیوولسمی پیښی لپاره د((بشر پروړاندی دجنایت)) نوم په رښتینی توګه کارول شوی وی؟ باید په نړیواله کچه ددی پیښی په ترسره کوونکو پسی پیژندونکی (اطلاعاتی)  هڅی په لاره اچول شوی وای په هغه صورت کی به دسپتامبر دپیښی راوروسته بنسټ پالونکی خوځښت چې ډیره برخه یی دبن لادن په کلکو منګولو کی پروته وه، په تدریجی توګه کمزوری شوی وای اوله منځه به تللای وای. داخبره په هغه وخت کی ښکاره اوروښانه وه ولی دجګړی لپاره دچټکو تیاریو په وخت کی دی خبری ته کوم چا پام وانه ړاوه. په ځای یی بولم چې دعربی نړی ډیری برخی خلکو په دی پیښی کی دبن لادن لاس لرل په کله وغندل.. مخکی له دی چې بن لادن ووژل شی په بنسټ پالونکی خوځښت کی دهغه شتون ورځ په ورځ پیکه کیده،اودپیښی(د۲۰۱۱ می)نه څومیاشتو مخکی دهغی شتون دعربی پاڅونونو تر کلکی سیوری لاندی راغلی و. دبن لادن دمرګ لږ وروسته، دمنځنی ختیځ دچارو کارپوه ((ګیلس کیپل)) په نیویارک ټایمز کی خپلی مقالی ته په عربی نړی کی دبن لادن درول په هکله داسی عنوان ټاکلی و: ((بن لادن پخوا تردی مړ شوی و)).

## خواشینونکی راتلونکی ته کتنه

که امریکا په عراق او افغانستان دخپلو غچ اخیستونکو بریدونو په واسطه دبنسټ پالی خوځښت دپیاوړتیا سبب نه وای شوی نو دغه عنوان چې (( بن لادن پخوا مړشوی و)) به ریښتینی راوتلای وای. په دی کی شک نشته چې بن لادن په بنسټ پال خوځښت کی ددرناوی وړ کس و، ولی ده په القاعده کی چې د څیرونکو لخوا د(په خالوکی ځاله بلل شوی) دومره اغیزه نه درلوده.

کله چې مونږ دسپتامبر دپېښې اودهغې دپایلو په هکله بیا غوراوکتنه کوواوپه راتلونکی دهغې اغیزو ته گورو نو دراتلونکی لسیزی لپاره ددی پیښی واړه حقیقتونه هم دیوی خواشینوونکی راتلونکی انځور زمونږ مخی ته په ډاگه کوی.

پای